


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

## د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغانی » ليکنه

د نشر نيټه : 22 مى 2016 م

# د انبيأ او رسولانو اهداف څه دي؟

انسان که څه هم ورته زيات علم او حکمت ورکړی شی ، مګر ؛ بيا هم د الله ( ج ) علم ته نشی رسيدلی بلکه هميش بی له دی چه خدای پاک يی پری پوه کړی په بل څه نه پوهيږی .

همدا وجه ده چه الله سبحانه و تعالی د خلکو د لیاربنونی د پاره رسولان واستول ترڅو دوی ته هغه حکمت او پوهنه وښيي چه دوی پری نه پوهيدل .

الله ( ج ) د بقره په سوره ، ۱۵۱ آيات کښی فرمايی : كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِّنكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ ت َكُونُواْ تَعْلَمُونَ ( سوره ۲: البقرة - جزء ۲ - آيه ۱۵۱ ) لکه څنګه می چه په تاسو کښی رسولان ليږلی دی ، همدارنګه دوی لولی پرتاسو باندی زما آياتو نه او تاسو د ناوړه اخلاقو څخه پاکوی ، تاسو ته کتاب او حکمت دربنی او د هغه شيانو ښودنه درته کوی چه تاسو پری نه پوهيدلی.

او د ال عمران په سوره۱۶۴آيات کښی فرمايی : لَقَدْ مَنَّ اللّهُ عَلَى الْمُؤمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبْلُ لَفِي ضَلالٍ مُّبِينٍ ( سوره ۳: آل عمران - جزء ۴ آيه - ۱۶۴) هر آئينه په مومنانو باندی الله ( ج ) احسان کړی دی چه په دوی کښی يی د دوی د نوعی څخه رسولان استولی دی . لولی په دوی باندی د ده د احکامو آياتو نه د ناوړه زميمه اخلاقو څخه يی پاکوی او د آسمانی کتاب او حکمت ليار ه ښونه ورته کوی که څه هم دوی پرخوا پر ښکاره ګمراهی کی وه .

سعيد افغاني

۱۳۵۵ هجري شمسي ـ کال

بارګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org